بسم الله الرحمن الرحيم




**«جنات بیسپالوا له بنده وژغورئ!»**

د روسيې د جنايتکاره رژيم د وحشتونو په ترڅ کې نن ورځ په سلګونو مسلمانان له حزب التحرير سره د کارکولو له امله په روسيه کې بندیانېږي. د ۲۰۰۳م د روسيې د سترې محکمې بې شرمې پرېکړې حزب التحرير يو ترهګر سازمان بللی او بندي شوي مسلمانان يې په ترهګرۍ تورن کړي. د دغې پوچې پرېکړې پر بنسټ دغه اسلامي سياسي ګوند يو «ترهګر» ګوند وبلل شو.

د حزب التحرير د غړو پر وړاندې د روسيې له کلکو قوانينو سره سره، جزاګانې په اساسي قانون کې د مذهبي بنسټپالنې د قوانينو پر اساس نه دي ټاکل شوي؛ بلکې د «ترهګرۍ» د قوانينو پر بنسټ ټاکل شوي دي، چې له امله يې جزا شل کلن بند ته رسېږي.

د دغو قوانينو د پلي کېدو په موخه د روسيې په ټولو سيمو کې دعوتګران څارل کېږي، په ځانګړې توګه په سينټ پيترزبورګ(St. Petersburg) کې چې د تېرو څو کلونو په ترڅ کې پکې په لسګونو دعوتګران نيول شوي او بنديان شوي دي. د نومبر پر ۲۴ مه امنيتي کړيو د حزب د يوه غړي عيسی رحيموف چې ۱۲ کاله د بند جزا ورته ټاکل شوي وه، مېرمن هم بندي کړه. د عيسی رحيموف مېرمن چې روسي اصله ده، اسلام يې قبول کړ او خپل نوم يې له الا څخه جنات بيسپالوا ته بدل کړ. دغه مېرمن له حزب التحرير سره د کارکولو له کبله ونيول شوه او د نورو جنايتکارانو په څېر په زندان کې واچول شوه. د ۲۰۱۸م په جنوري کې  پرېکړه وشوه، چې د دغې خور توقيف به دوه مياشتې نور هم وغځېږي يعني د ۲۰۱۸م د مارچ تر ۱۶مې پورې به دا مېرمن په بند کې پاتې وي بيا به يې محکمه پيلېږي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ﴾**

[ال عمران:۱۱۸]

*ژباړه: په رښتيا سره د زړونو دښمني يې له خولې څخه راوځي او څه چې هغوی په خپلو سينو کې پټ ساتلي دي، هغه له دې څخه زيات دي. موږ تاسو ته په ډاګه څرګندې لارښوونې کړې دي، که تاسو وپوهېږئ.*

دغو ټولو جنایتونو ته په کتو سره د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د «جنات بیسپالوا له بنده وژغورئ!» تر سلیک لاندې نړیوال کمپاین پیل کړی دی. د مظلومو مسلمانو میندو پر وړاندې د روسیې کړنو ته په غبرګون کې تر ټولو غوره ځواب پر نبوي طریقه د ربښتیني خلافت د راوستلو لپاره له حزب التحریر سره کار ته دوام ورکول دي. دا د الله سبحانه و تعالی د رضا لاس ته راوړلو سمه لار ده. د اسلامي حاکمیت په راتګ سره مسلمانان کفري قوانین، ظالم او جابر رژیمونه بدلوي. په دې اړه الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾**
[الانفال:۲۴]

*ژباړه: اې ایمان راوړونکو! د الله او د هغه د پیغمبر بلنې ته ښه راغلاست ووایاست، کله چې پیغمبر تاسو ته د هغه شي په لور بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند بخښونکی دی. پوه شئ چې الله د انسان او د هغه د زړه ترمنځ پرده ده او د هغه لوري ته به تاسو غونډ کړای شی.*

اې پروردګاره! موږ له تا نه په خورا عاجزۍ سره مرسته غواړو، زموږ جنات بیسپالوا خور، د هغې خاوند او ټول مسلمانان چې له کوم جرم پرته د ظالمانو په زندانونو کې بندیان دي، خلاص کړه او د هغو مظلومو مسلمانانو ساتنه وکړه چې د اسلام لپاره دعوت کوي. اې خالقه! هغه ورځ رانږدې کړې چې ټوله خاوره د اسلام له حاکمیت او ستا له مرستې څخه برخمنه شي. موږ ټول هغه کسان رټو او غندو چې زموږ د سپېڅلي امت پر زامنو او لوڼو بریدونه کوي. اې ربه زموږ دعا قبوله کړې، امین.

**حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر**
**۱۴۳۹هـق، د جمادي الاخر۱۵مه**
**۲۰۱۸م، د مارچ ۳مه**
**ژباړن:خبیب**